# اې خلکو! دا کار مې ځکه وکړ چې ماپسې اقتدا وکړئ، او زما لمونځ زده کړئ

له ابو حازم بن دينار څخه روايت دی: چې يو څو سړي سهل بن سعد الساعدي ته راغلل، پداسې حال کې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د منبر په اړه يې سره په خپلو کې اختلاف کړی و چې له څه شي څخه جوړ و، نو د منبر په اړه يې ورڅخه پوښتنه وکړه، هغه وويل: قسم په الله زه پوهيږم چې هغه څه دی او له شک پرته مې په لومړۍ ورځ ليدلی چې کېښودل شوی و او لومړۍ ورځ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې کېناست، رسول الله صلى الله عليه وسلم له انصارو څخه فلانۍ ښځې ته -چې سهل يې نوم ياد کړ- خبر ورولیږه چې: «خپل ترکاڼ غلام ته دې امر وکړه چې زما لپاره لرګي جوړ کړي تر څو پرې خلکو ته د خبرو کولو پر مهال کښېنم» نو هغې ورته امر وکړ، نو د ځنګل د غز له ونې څخه يې جوړ کړ، بیا يې راوړ او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې يو څوک ورولیږه، هغه امر وکړ چې هغلته کېښودل شي، بیا مې رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې لمونځ يې پرې وکړ، تکبير يې وواېه او پرې د پاسه و، بیا يې رکوع وکړه او هغه پرې د پاسه و، بیا شاته کوز شو، نو د منبر په بېخ کې يې سجده وکړه بیا بېرته ورګرځېد، نو کله چې فارغ شو خلکو ته يې مخ کړ او ويې ويل: « اې خلکو! دا کار مې ځکه وکړ چې ماپسې اقتدا وکړئ، او زما لمونځ زده کړئ».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

يو صحابي ته يو سړی راغی او د هغه منبر په اړه يې ترې پوښتنه وکړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کاراوه؛ چې له څه شي څخه جوړ شوی و؟ دوی په دې اړه بحث او اختلاف کړی و، نو دا خبره يې ورته ياده کړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د انصارو يوې ښځې ته چې ترکاڼ غلام يې درلوده يو څوک ورولیږه او ورته يې وويل: چې: غلام ته دې امر وکړه چې يو منبر راته جوړ کړي تر څو پرې خلکو ته د خبرو پر مهال کېنم، نو مېرمنې د رسول الله صلى الله عليه وسلم خبرې ته لبيک وواېه او خپل غلام ته يې امر وکړ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ځنګله د غز له ونې څخه منبر جوړ کړي، نو کله يې چې له جوړولو څخه فارغ شو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې وليږه، هغه امر وکړ چې په جومات کې د منبر پر ځای کې کېښودل شي، نو بیا رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې لمونځ وکړ، تکبير يې وواېه او رکوع يې پرې وکړه پداسې حال کې چې د منبر د پاسه و، بیا راکوز شو او لږ غوندې شاته يې قدم واخيست پرته لدې چې شاته مخ واړوي، نو د منبر په بېخ کې يې سجده وکړه بیا بېرته وخوت، نو کله چې له لمانځه څخه فارغ شو خلکو ته يې مخ کړ ، او ويې ويل: اې خلکو! دا کار مې ځکه وکړ چې اقتدا راپسې وکړئ او د دې لپاره چې زما لمونځ زده کړئ.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65096

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee